AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریززی
۲۰۲۵/۱۱/۰۶

# ډوډۍ

## (لنډه کیسه)

زموږ د کلي په مشرانو او کشرانو کې ځو کسانو د ښو کارونو د پاره وتلی نوم درلود. اکبر اکا ښه مرکچي و. خاتوله ببۍ د ناوې په سینګارولو ښه پوهېده. زلیخا ترور د نوي ماشوم په زېږونه کې برکتي لاس درلود. پېغله منګله د خپلې مور لونګې غوندې، د ډوډۍ په پخولو کې نامتو وه او داسې نور.
د منګلې ډوډۍ د ټول کلي له ډوډۍ ځخه په زغرده ښه وه. دا ډوډۍ نرمه، خوندوره، ښایسته او سوربخونه وه. منګلې به داسې ډوډۍ پخوله چې تا به ویل، د کلي د ټولو ښایسته نجونو د ډوډۍ ښکلا او نرموالی یې په یوه ډوډۍ کې غونډ کړی دی!
هغه وخت زموږ د کلي ځینو ښځو دا خبره کوله، چې هرهغه څوك چې د سفر په وخت کې د منګلې د لاس خوندوره، غوړه او خوږه ډوډۍ ورسره ولري، سفر یې هرومرو بریالی وي.
منکله په وار – وار د ډوډۍ د پخولو د پاره د کلي ډېرو کورونو ته تللي وه. دې ته د کلي ډېر کورونه لکه خپل کور داسې معلوم وو. دا په ډېرو کورونو کې بلده وه. د اوړو کندو، د بوټو او لرګو خونه، تنور او هر_ هرڅه یې ځو_ ځو ځلې لیدلی وو.
کله به چې منګله د ډوډۍ پخولو لپاره کوم کور ته وبلل شوه، دی به هلته لومړی دا پوښتنې کولې:
_ څوك له خیره په سفر ځي؟
_ مسافر ځو شپې او روځې مزل لري؟
_ مسافر یوازې دی او که ملګری لري؟
کله به چې منګله د خپل کار په حساب پوه شوه، د اوړو کندو ته به کیناسته، اوړه به یې دوه – درې ځلې غلبیل کړل، سړې او تودې اوبه، مالګه، غوړي او خوږه به یې برابرکړل او بیا به د اوړو په اغږلو بوخته شوه.
منګله په دې پوهېده چې په ټول کلي کې څوك د دې په شان خوندوره او پسته ډوډۍ نه شي پخولای . دې دا کمال له خپلې مور لونګې ځخه زده کړی و. دا په دې پوهېده چې مور یې په دې کار د کلیوالو دعا ګټلې وه او اوس د کلي خلك دې ته د لونګې په سترګو ګوري او خپله تر ټولو خوندوره ډوډۍ په دې پخوي.
***
کله چې ځو کاله مخکې پردې زموږ په وطن راواوښتل او زموږ خلکو خپلې لویې جګړې ته ملا وتړله، زموږ له کمکي کلي ځخه هم د ځوانانو تګ ډېر شو او هره اوونۍ به ډله_ ډله خلك روان وو.
منګله چې اوس نو پوره پېغله وه، نور د ډوډۍ د پخولو د پاره د کلیوالو کورونو ته تله او د مسافرو خوندوره او پسته ډوډۍ یې په خپل تناره کې پخوله.
د جګړې په کلونو کې منګلې د هیچا خبره په زمکه نه غورځوله. دې خپله مرسته له جنګیالیو ځخه نه سپموله. منګلې په دې لویه جګړه کې دا خپله ونډه بلله. دې او پلار به یې په دې آخرو میاشتو کې د شپې هم د خپلې کمکۍ کلا دروازه نه بندوله. هسې نه چې څوك ناوخته راشي او له تړلې دروازې سره مخامخ شي!
خدای ښه پوهېږي چې منګلې ولې له خپل کار سره دومره مینه درلوده؟ ځینو فکر کاوه چې دا بې موره پېغله خپل یوازیتوب په دې کار هیروي. ځینو به ویل چې منګله د ښې ډوډۍ د پخولو له لارې، له خپلې مور سره خپلې اړیکې ژوندۍ ساتي او دا د لونګې وصیتي میراث ورته پاتې دی!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ورو- ورو کلونه تیرېدل. د کلي نیمايي ځوانان شهیدان شوي وو. د وړوکي کلي په هدیره کې به هره ورځ نوې – نوې جنډې رپېدلې؛ خو داسې ښکارېده چې نوي ځوانان په مخ روان وو او منګلې د دوی لپاره همغسې خوندورې ډوډۍ پخولې.

***

ښایسته ډېر کلونه تیر شوي وو. پردي لښکرې شړل شوې وې؛ خو د جګړې د اور لمبې لا نه وې سړې شوې. لا به هم یو نیم کسان جګړې ته تلل او د منګلې ډوډۍ به یې له ځانه سره وړله.
منګلې اوس هم چې د کلي د یو بریتور ځوان ثمرګل په نامه وه، د پخوا په شان د کلیوالو مسافرو سره مرسته کوله.
ثمرګل چې لس کلونه یې د جګړې په تاوده میدان کې تیر کړي و، د شا او خوا سیمو ډیرې جبهې لیدلې او څو ځلې ټپي شوي و.
ده ډېرې روځې له خپل کلي او خپلو خپلوانو څخه لیرې په روغتونونو کې تیرې کړې وې.
هغه وخت چې زموږ کلیوال د خپلو دښمنانو په نسکورولو خبر شول او څو شپې د ښادي او خوشحالۍ ډزې کېدې، منګلې ثمرګل ته وویل:
_ ګرانه د ټوپك وخت تیر شو. هغوی چې ووژل شول، پاك شهیدان دي. ټپیان د مرستې وړ دي او هغه چې روغ رمټ راوتلي، د خدای په شکرانه کې دې کار ته ملا وتړي او...
ثمرګل د منګلې خبرې پرې کړې:
_ ما هم همداسې فکر کاوه؛ خو اوس چې ګورم لا ډیر کارونه پاته دي ... دا دویمه روځ ده چې زموږ ډله له ښارونو څخه وسلې او نور شیان چلوي. خلك د ډېرو روپیو خاوندان شول!
منګلې چې د ثمرګل په خبره سمه نه وه پوه شوې، پوښتنه وکړه:
_ دا شیان له کومه کوي؟
ثمرګل، سترګې بلې خوا ته واړولې او ځواب یې ورکړ!
_ ته لا نه پوهیږې چې دا شیان له کومه کوي؟ !
منګلې وویل:
_ نه ، زه څه پوهیږم!
ثمرګل ځواب ورکړ:
_ په ښارونو تالان ګډ دی! هلته کفار اوسېدل. هلته ډېر دولتونه دي ، هلته خلکو هر- هر څه درلودل. اوس زموږ قوماندانان همغه راچلوي.
منګله ډېره چرتي شوه. دې ته داسې ښکاره شوه لکه څوك چې د دې او ثمرګل د ګډ کور، مالونه وړي او خونې یې لوڅې بربنډې پرېږدي.

***

درې روځې وروسته منګله خبره شوه، چې ثمرګل او څو کسه نور ملګري یې له ښار څخه راورسېدل او ډک موټره مال یې راوړی. دا په دې هم پوه شوه چې په دې مالونو کې وسلې، غالۍ، برستنې، جامې او ډېر نور شیان شته. دا مالونه جنګیالیو په خپلو مینځو کې وویشل او دوه سطرنجې یې د کلي جومات ته سوغات کړې!
سبا ثمرګل د خپل خسر په کور کې لمر ته ناست و، چې درې تنه نور ملګري یې ورپسې راغلل. دوی د چایو په څښلو کې په خپلو کارونو خبرې کولې:
- اکبري دومره مال راوړل چې سل کاله یې نه شي تمامولای!
ثمرګل ځواب ورکړ:
_ موږ تاسې وروسته پوه شوو.زموږ څو خدای وهلی تکره هلکان مرسته نه کوي. خیر دی اوس هم وخت شته. بې ګټې نه پاته کیږو!
دریم وویل:
_ له ښاره یې احوال رالیږلی دی چې ژر راشئ. لکه چې غوره نیوکه یې کړې ده!
منګلې دا خبرې د تناره په غاړه اورېدې او د خپل پلار هغه بیګانیو خبرو یې په غوږونو کې انګازې کولې، چې د مالونو د ویش په وخت کې یې له ورایه اورېدلې وې...
_ دا دوه برستنې د .. هغه دوه غالۍ د ... هغه د جامو پنډه... دا دیګونه او کاسې د ...
د منګلې په سر کې یو شور پیدا شو. مخامخ لمر ته ناست کسان، ثمرګل او د ده ملګري کټ مټ ورته د غلو په شان ښکاره شول. ټولو ته یې په کرکه وکتل او په زړه کې یې ځړیکه شوه.
څو شیبې وروسته د اکبري مور راغله او د اوړو یوه لویه کاسه یې د منګلې مخې ته کینوده. منګلې بې خونده غونډې ورته وکتل. د اکبري مور ورته وویل:
_ پیغلې بچې په لاسونو دې برکت شه. اکبري وړور دې سبا بیا له خیریه روان دی. خدای دې د ده په مخ رڼا کړي. راغلم چې ستا د لاس غوره ډوډۍ ورته برابره کړم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ثمرګل هغه وختنی خبرې د منګلي په ذهن کې ژوندۍ شوې:
_ یاره، اکبري داسي مال راوړل چې سل کاله یې نه شي تمامولای...
او داسي ورته ښکاره شوه چې دا اکبری، دا ثمرګل او دا  نور یاران یې همدا اوس د دوی د کور په لوټ بوخت دي.
له ټولو نه یې کرکه وشوه او د خو شیبو د پاره یې د اکبري مور ته په پټه خوله وکتل.
د اکبري مور بیا پوښتنه وکړه:
_ بچې کله راشم.؟
منګلي شا او خوا وکتل او په زغرده یې ورته وویل:
- ادي! زه نور نو چا ته ډوډۍ نه پخوم !
دا تند ځواب ثمرګل او د منګلي پلار هم واورېد او ټول اریان شول.
منګله هم خپلي پرېکړې  ته اریانه وه. د دې د سترګو په وړاندې ډېرو کسانو لور په لور ځغستل. چا غالۍ اوچته کړې وې ، چا بړستني په اوږه اچولي وې، چا له خلکو څخه جامې ایستلې، چا د لرګو د پاره دخلکو خوني نړولې .
ځینو ښځو د خدای  پار ناري وهلې او په لسګونو ماشومانو ژړل . هر خوا وژل شوي کسان پراته وو او ...
منګلي بیا د پوړني له څنډې څخه په لمر کې ناستو کسانو ته وکتل. ثمرګل، اکبری او جنت ګل او وبیریده. ټول داسي ورته ښکاره شول لکه سره غله. په سترګو کې یې د اوښکو څاڅکي راوځلېدل. د اکبري د مور د اوړو کاسه یې په لاس شا ته کړه. سر یې وخوځاوه او وې ویل:
_ ادي، نور دا ډوډۍ نه پخوم! کشکې لاس مې مات وای او پخوا مې هم دا کار نه وای کړای!
د منګلي غوسه شیبه په شیبه ژړغوني کنېده.
د اکبري مور لا همغسي اریانه ناسته وه، چې د ثمرګل ادې هم د اوړو له تغارې سره راورسېده. منګلي له خپله ځایه، د تناره له غاړې څخه ناري کړې:
_ ادي مه راوړه... مه راوړه دا د غم اوړه.... نه یې  پخوم!
په کورکې ټول حاضرین چوپ _ چوپ او اریان _ اریان شول. ثمرګل له خپلو همزولو څخه وشرمید. خپل سګرېټ ته یې اور ورته کړ او وټوخیده.
منګلې لا هم ناري وهلې:
_ زه ځان نه ګنهګاروم... ادې ببرته ستنه شه.
خو د ثمرګل مور ځان د منګلي د خواښې په توګه، ډېر حقدار ګاڼه او همغسي را روانه وه.
_ادې تا ته وایم. که د ډوډۍ د پخولو له پاره راغلې یې ، ببرته وګرځه.  زه دا ډوډۍ نه پخوم... دا حرامه ده!
دا وخت ثمرګل د خپلي مور په ننګه اوچت شو. منګلي ته یې په ډېره غوسه وکتل او په تنده لهجه یې وویل:
_ څنګه یې نه پخوې؟ ... ته او دا لویه خبره ! ... زه سبا سهار ښار ته روان یم.
منګله د تناره له څنډې څخه پاڅېده او وې ویل
_ هر چېرته چې ځې په مخه دې ښه. زه نور دا ډوډۍ نه شم پخولای!
ثمرګل ډېر په غوسه ورته وویل:
_ته دا حق نه لرې چې ووایې زه دا ډوډۍ نه پخوم . ته دوه درې میاشتي وروسته زما کورته راځې او زما ښځه یې!
منګلي د تناره سر بند کړ او وې ویل:
_ دا منم چې زه به ستا ښځه وم؛ خو زه خپله غاړه نه بندوم. زه د کلي له شهیدانو څخه شرمېږم!
ثمرګل، منګلي ته په ډېره غوسه وکتل. دې کتلو په منګله اور بل کړ او داسي فکر یې وکړ چې ټوله خواري یې په اوبو لاهو شوې ده.
دا وخت د ثمرګل نور ملګري هم پاڅېدل او ځانونه یې تګ ته چمتو کړل. ټولي سترګې د منګلي په لور کږې شوې.
هغې  وژړل او  خپل ټول زغم یې له لاسه ورکړ.
ناڅاپه یې د اکبري د مور د اوړو کاسه، جګه کړه او د ثمرګل  د مور د پښو خوا ته غوزار کړه او چیغه یې کړه:
_زما د لاس ډوډۍ نور په دې غلو حرامه ده !...زه یې نه پخوم... زه یې نه پخوم ... زه یې ....
ژړا یې په کوکو واوښته، مخ یې په خپل تور پوړني کې پټ کړ او د خوني خوا ته یې وځغستل.

پای
۱۹۹٤/۳/۱٦
حیات آباد- پېښور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ